د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د طبيعي - تخنيکي علومو معينيت
د څېړکړوهنې علومو مرکز رياست

مدیریت پایدار منابع طبیعی در افغانستان

په افغانستان کې د طبیعي سرچینو پایښتي مدیریت

(د علمي - څېړنيز کنفرانس د مقالو ټولگه)



کابل-افغانستان

۱۴۰۵ هـ.ل

په افغانستان کې د طبیعي سرچینو پایښتي مدیریت

(د علمي - څېړنيز کنفرانس د مقالو ټولگه)



Sustainable Management of Natural Resources in Afghanistan

Conference Proceedings Book

ISBN 978-9936-672-12-3

ATOMA چاپ به همکاری اتوما

Kabul - 2026



امارت اسلامی افغانستان

اکادمی علوم

معینیت بخش علوم طبیعی – تخنیکی

ریاست مرکز علوم زمین

مدیریت پایدار منابع طبیعی در افغانستان

مجموعه مقالات سمینار علمی – تحقیقی

کابل، افغانستان **سال: 1405هـ .ش**



اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَىٰ سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ، وَعَلَىٰ آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ، أَمَّا بَعْدُ!

مشخصات اثر

نـــــام اثـــــر: مدیریت پایدار منابع طبیعی در افغانستان

به اهتمام: معاون سر محقق عبدالوهاب همدرد، محقق عبدالروف قادری و الیاس عمر فرهمند

کمپوز و دیزاین: معاون سر محقق عبدالوهاب همدرد و الیاس عمر فرهمند

ســـال چـــاپ: 1405 هـ.ش

محـــل چـــاپ: شرکت خدماتی مفکوره

ناشـــــــــــر: ریاست اطلاعات و ارتباط عامه، اکادمی علوم افغانستان

تیـــــــــــراژ : 500 جلد

آدرس : اکادمی علوم، طره باز خان وات کوچۀ شاه بوبو جان، شهر نو، کابل

شـماره تماس ریاست اطلاعات و ارتباط عامه : 0202201279 (0093)

ایمیـل آدرس ریاست اطلاعات و ارتباط عامه: info@asa.gov.af

ISBN: 978-9936-672-12-3

حق چاپ برای اکادمی علوم محفوظ است.

هیأت کمیسیون ارزیابی مقالات:

الحاج مفتی مولوی امیر جان ثاقب، رئیس کمیسیون
پوهاند دوکتور نقیب الله سهاک عضو کمیسیون
پوهاند محمد نعیم اقرار عضو کمیسیون
پوهاند عبدالغیاث صافی عضو کمیسیون
سرمحقق عتیق الله خوشیوال عضو کمیسیون
سرمحقق محمد میا مرهون عضو کمیسیون
معاون سرمحقق دوکتور احمد امید افضلی عضو کمیسیون
معاون سرمحقق محمد نذیر حیران عضو کمیسیون
معاون سرمحقق خلیل الله بارکزی عضو کمیسیون
معاون سرمحقق رفیع الله نصرتی عضو کمیسیون
معاون سرمحقق دکتور محمد ادریس رسولی عضو کمیسیون
محقق شوکت الله عابد عضو کمیسیون
محقق حامد امان عضو کمیسیون

فهرست مطالب

پیام‌های ادارات در رابطه به سمینار مدیریت پایدار منابع طبیعی در افغانستان

- ✓ پیام رئیس الوزرای امارت اسلامی افغانستان
- ✓ پیام رئیس عمومی اکادمی علوم
- ✓ پیام وزارت ارشاد، حج و اوقاف
- ✓ پیام وزارت زراعت، آبیاری و مالداری
- ✓ پیام ادارۀ عمومی حفاظت محیط زیست افغانستان
- ✓ پیام پوهنتون پولی تخنیک کابل
- ✓ پیام ادارۀ آمادگی مبارزه با حوادث
- ✓ پیام رئیس پوهنتون کابل
- ✓ پیام اتحادیۀ صادر کننده گان سنگ های قیمتی و نیمه قیمتی و جواهرات

شماره	عنوان	نویسنده	صفحه
1	وضعیت کنونی منابع آب زیرزمینی...	پوهاند محمد نعیم اقرار	1
2	تحلیل دینامیک، پایداری و تاب آوری...	معاون سر محقق دوکتور احمد امید افضلی	19
3	د نورستان د واورین پوښښ...	[1] پوهاند عبدالغیاث صافی [2]پوهنیار طیب الله احساس	49
4	د GIS او Remote Sensing په مرسته د کابل...	څېړندوی حامد امان	65
5	مشخصه یابی و تفکیک سنگ های قیمتی و...	[1]پوهنیار رحمت الله اندیشمند [2] پوهنمل احمد فایق امین	91
6	بررسی چالش ها، فرصت ها و روش های...	سرمحقق محمد یاسین فرهمند	107
7	د روانو اوبو د پایښتي مدیریت په موخه...	څېړنپوه عبدالرحمن لطیف	127
8	د آبریزو مدیریت له لارې په افغانستان کې...	څېړنوال دوکتور محمد ادریس رسولي	143
9	تحلیل چالش ها و فرصت‌های مدیریت پایدار...	معاون سرمحقق محمد نذیر حیران	157
10	اولویت بندی تکنالوژی های انرژی تجدیدپذیر...	معاون سرمحقق نصرالله فلک	185
11	د افغانستان د ځنګلونو وضعیت او د هغوی...	څېړنوال خلیل الرحمن بارکزی	209
12	په افغانستان کې د برېښنا د پایدارې برابرونې...	[1]څېړنپو انجنیر محمد اکرم شهیم [2]نوماند څېړندوی فضل لله عابد	225
13	د کابل ښار د نفوس او چټکې ښارې پراختیا...	[1]څېړنوال عبدالوهاب همدرد [2]څېړندوی حامد امان	249

14	بررسی فرصت ها و چالش های مدیریت پایدار...	[1]پوهنوال داکتر نجیب‌الله مجددی [2] نامزد پوهنیار نصرالله بلوچ	279
15	تحلیل مکانی - زمانی تغییرات و پایداری...	محقق عبدالروف قادری	309
16	د GIS او RS په مرسته د هېواد د یخچالي...	څېړندوی عبدالبشیر امرخیل	331
17	په افغانستان کې د المونیمي سرچینو د پروسس...	څېړندوی معراج خان سلطان زوی	349
18	د سمنګان د ډبرو سکاره او د هغه له ضایعاتو ...	څېړنیار سیدجمال الدین روحانی	367
19	له خام پلور څخه د پایښتي صنعتي اقتصاد...	پوهنمل احمد ګل احمدي	381
20	ارزیابی تغییرات زمانی و توزیع مکانی سرعت باد...	[1]پوهنیار عبدالباسط یره‌ش [2] پوهندوی دوکتور عبدالبصیر محمودزاده	399
21	د ریموټ سنسنګ او جی ای اېس په کارولو سره...	[1]پوهنیار سید رحمت الله سادات [2] پوهنمل شاهدالله امن [3]پوهندوی محمد حسن محمدی	419
22	بررسی چالش ها فرا روی مدیریت منابع آب...	[1]پوهنیار زلمی سروری [2]پوهندوی عبدالعزیز منیب	441
23	**Integrated Model-Based Seismic Inversion...**	**[1]Abdul Sami Sahand** **[2]Genyang Tang** **[3]Dost Mohammad Afzali**	465
24	مدیریت پایدار منابع آب های سطحی و...	[1]پوهنیار نجیب الله بلوچ [2]پوهنمل مسلم عالمی [3]پوهنمل حسیب الله ایازی [4]نامزد پوهنیار عبدالغفار مظلومیار	497
25	په افغانستان کې د SPI-3 شاخص عمومي...	[1]محمد شاهد ناصري [2]الطاف احمد علمیار	517
26	نقش تکنالوژی در کاهش اثرات سوء ...	انجنیر اطیعوالله محمدی	545
27	Analysis of Historical & …	Engineer Mir Shahirr Karimzada	567
28	بررسی اثرات استخراج زغال سنگ بر تغییر...	دیپلوم انجینر محمد عیسی بخشی زاده	593
29	تحلیل پیامدهای منفی پروژه های...	دیپلوم انجنیر عصمت الله کامران	617
30	د کونړ سیند د اوبو د سرچینو پایښتی	مسلک آموز فضل الوهاب عاصم	655
31	د څښاک اوبو د پایښتي مدیریت په برخه کې	هارون زمان	673
	قطعنامه		697

په افغانستان کې د طبیعي سرچینو پایښتي مدیریت تر سرلیک لاندې علمي ځېړنیز سیمینار ته د افغانستان اسلامي امارت د محترم رئیس الوزراء پیغام

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ، وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ.

د دې ارزښتناک علمي - ځېړنیز سیمینار قدرمنو برخوالو!

السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ!

له هر څه وړاندې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د مسئولینو، استادانو، ځېړونکو او لیکوالانو له لورې (په افغانستان کې د طبیعي سرچینو د پایښتني مدیریت) تر عنوان لاندې د علمي ځېړنیز سیمینار جوړېدل یو مهم، پر ځای او له اړتیا سره سم غوره اقدام ګڼم. افغانستان د بېلابېلو طبیعي (قدرتي) نعمتونو او شتمنیو درلودونکی هېواد دی او د دغه نعمتونو ساتنه له طبیعي سرچینو څخه سمه او عادلانه ګټه اخیستنه د هر هېوادوال دنده او مسئولیت دی. اوبه، حاصلخیزې ځمکې، څنګلونه، څرځایونه، کانونه، او نورې طبیعي سرچینې زموږ د هېواد د اقتصادي ودې او د خلکو د هوساینې مهم بنسټونه جوړوي؛ نو د دغو سرچینو علمي پېژندنه، سالم مدیریت، منظم استعمال او پایښتي ساتنه د هېواد په پرمختګ او اقتصادي ځان بسیاینه کې مهم رول لري. افغانستان د اقلیمي بدلونونو، د نفوس د زیاتوالې او له طبیعي سرچینو څخه د ناسمې استفادې له امله له بېلابېلو ننګونو او زیاتو ستونزو سره مخ دی؛ له همدې امله اړینه ده چې د هېواد علمي قشر او ځېړنیز مرکزونه د داسې ستونزو د حل لپاره علمي او عملي لارې چارې ولټوي.

د افغانستان اسلامي امارت د علمي ځېړنو او تخصصي مراکزو بهبود او مسلکي وړتیا ته ځانګړې پاملرنه لري او په دې باور دی چې د هېواد پرمختګ هغه مهال پایښتي، متوازن او اغېزمن کېدای شي چې د علمي ځېړنو او کره معلوماتو د پلانونو پر بنسټ ولاړ وي. علمي ځېړنې هم باید یوازې په نظري بحثونو پورې محدودې نه وي، بلکې باید د هېواد د اړتیاوو د پوره کولو، د ستونزو د حل، د طبیعي سرچینو د ساتنې او د اقتصادي ودې د پیاوړتیا لپاره عملي پایلې ولري. باوري یم چې د داسې علمي ځېړنیز سیمینار علمي - ځېړنیزې مقالې، علمي بحثونه او تخصصي وړاندیزونه به د افغانستان د طبیعي سرچینو د پایښتي مدیریت لپاره روښانه، علمي او د تطبیق وړ حل لارې وړاندې کړي.

په پای کې، د افغانستان د علومو اکاډمۍ مسئولینو، استادانو، متخصصینو او د دغه علمي - څېړنیز سیمینار جوړونکو او برخوالو ته د دې علمي پروګرام جوړولو او پکې د ګډون له امله مننه کوم او له الله ﷻ څخه غواړم چې د هېواد علمي پرمختګ، اقتصادي ودې، ثبات، سوکالۍ او د طبیعي نعمتونو د سالمې استفادې په برخه کې مورِ ټولو ته لا زیات توفیق راکړي.

وَالسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ.

الحاج ملا محمد حسن آخند

د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء

په افغانستان کې د طبیعي سرچینو پایښتي مدیریت تر سرلیک لاندې علمي ـ څېړنیز کنفرانس په مناسبت د افغانستان د علومو اکاډمي د عمومي رئیس پیغام

طبیعي سرچینې د هېوادونو د اقتصادي ودې، ټولنیزې هوساینې، چاپېریالي ثبات او پایښتي پرمختګ له مهمو بنسټونو څخه ګڼل کېږي. د دغو سرچینو علمي پېژندنه، دقیقه ارزونه، اغېزمنه ساتنه او معقوله ګټه اخیستنه نه یوازې د اوسنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره ارزښت لري، بلکې د اوږدمهاله پراختیایي موخو د تحقق لپاره هم بنسټیز اهمیت لري. له همدې امله، د طبیعي سرچینو مدیریت باید پر کره علمي معلوماتو، معیاري څېړنو، تخصصي ظرفیتونو، نوې ټکنالوژۍ او د شواهدو پر بنسټ تصمیم نیولو ولاړ وي.

افغانستان د خپل ځانګړي جغرافیایي موقعیت، متنوع اقلیمي شرایطو او پېچلي جیولوجیکي جوړښت له امله د پام وړ طبیعي شتمنۍ لري. د اوبو سرچینې، معدني زېرمې، کرنیزې ځمکې، ځنګلونه، څړځایونه، حیاتي تنوع او د بیا نوې کېدونکې انرژۍ ظرفیتونه د هېواد د اقتصادي ودې، ځان بسیاینې، د کاري فرصتونو د رامنځته کولو او د خلکو د معیشت د ښه والي لپاره مهم ظرفیتونه دي. خو د دغو سرچینو موجودیت په یوازې ځان د پرمختګ تضمین نه شي کولای؛ بلکې د هغوی علمي ارزونه، معیاري پایښتي مدیریت او د طبیعي ظرفیتونو په حدودو کې معقوله ګټه اخیستنه اړینه ده.

په اوسني وخت کې اقلیمي بدلون، پرله پسې وچکالۍ، سېلابونه، د اوبو د سرچینو کمښت او ککړتیا، د خاورې تخریب او فرسایش، د نباتي پوښښ کمښت، د ځمکو د کارونې بدلون، د ایکوسیستمونو زیانمندل او له ځینو طبیعي سرچینو څخه غیرمعیاري ګټه اخیستنه د افغانستان د طبیعي سرچینو پر وړاندې مهمې ننګونې دي. د دغو ستونزو پېچلتیا ایجابوي چې د طبیعي سرچینو مدیریت له دودیزو او لنډمهالو کړنلارو څخه د علمي، جامع او پایښتي مدیریت پر لور ولاړ شي او تصمیمونه د معتبرو معلوماتو، څېړنیزو موندنو او دقیقو علمي ارزونو پر بنسټ ونیول شي.

د افغانستان د علومو اکاډمي، د هېواد د یوه لوړ علمي او څېړنیز بنسټ په توګه، خپله اساسي دنده ګڼي چې د هېواد د مهمو طبیعي، تخنیکي، اقتصادي او ټولنیزو مسئلو په اړه بنسټیزې او تطبیقي څېړنې ترسره کړي، باوري علمي شواهد تولید کړي، علمي او تخصصي ظرفیتونه

سره همغږي کړي او د څېړنيزو موندنو پر بنسټ د اړوندو ادارو د پاليسيو، ستراتيژيو او پراختيايي پروګرامونو لپاره علمي او مسلکي وړانديزونه وړاندې کړي. په دې برخه کې د علومو اکاډمۍ مسؤوليت يوازې د علمي اثارو په توليد او خپرولو کې نه را لنډېږي، بلکې د علمي پوهې او عملي تصميم نيونې ترمنځ د اغېزمنې اړيکې رامنځته کول هم د دې علمي بنسټ له مهمو رسالتونو څخه دی.

پر همدې بنسټ، د (په افغانستان کې د طبيعي سرچينو پايښتی مديريت) تر سرليک لاندې د دغه علمي ـ څېړنيز کنفرانس جوړول د افغانستان د علومو اکاډمۍ د علمي او څېړنيز رسالت يوه مهمه برخه ده. دغه کنفرانس د هېواد د پوهانو، څېړونکو، د پوهنتونونو د استادانو، متخصصانو او د اړوندو ادارو د مسلکي کادرونو ترمنځ د علمي افکارو، څېړنيزو موندنو او تخصصي تجربو د تبادلې لپاره مناسب علمي بستر برابروي.

د دغه کنفرانس موخه بايد يوازې د علمي ـ څېړنيزو مقالو تر وړاندې کولو محدوده نه وي؛ بلکې مهمه ده چې د څېړنو پايلې د طبيعي سرچينو د اوسني وضعيت په علمي تحليل، د شته ظرفيتونو او محدوديتونو په تشخيص، د مهمو ستونزو د عواملو په پېژندنه او د عملي حل‌لارو په وړاندې کولو کې وکارول شي. په ځانګړې ډول، هغه څېړنې چې د هېواد له واقعي اړتياوو سره تړاو ولري او د کمي او کيفي معلوماتو، ساحوي شواهدو او معياري علمي ميتودونو پر بنسټ ترسره شوې وي، کولای شي د پاليسي جوړونې او تصميم نيونې لپاره باوري علمي بنسټ رامنځته کړي.

موږ باور لرو چې د افغانستان پايښتی پرمختګ له علم، څېړنې، نوښت او پر شواهدو ولاړې تصميم نيونې سره مستقيم تړاو لري. د طبيعي سرچينو اغېزمن مديريت داسې علمي ليدلوري ته اړتيا لري چې د سرچينو کميت او کيفيت، ظرفيتونه او محدوديتونه، اقتصادي ارزښت، چاپېريالي اغېزې او د کارونې اوږدمهاله پايلې په جامع ډول وارزوي. له همدې امله، د علمي او څېړنيزو بنسټونو، پوهنتونونو او اجرائيوي ادارو ترمنځ د همکارۍ او علمي معلوماتو د تبادلې پياوړتيا ځانګړې اهميت لري.

همدارنګه، اړينه ده چې د هېواد علمي څېړنې تر ډېره د افغانستان د واقعي ستونزو او پراختيايي اړتياوو پر لور سوق شي. د طبيعي سرچينو په برخه کې منظمې څېړنې، د معلوماتو د باوري بنسټونو رامنځته کول، د متخصصو کادرونو د ظرفيت لوړول، د معاصرو څېړنيزو ميتودونو پراختيا او د څېړنيزو پايلو عملي کول کولای شي د سرچينو په مديريت کې د علمي تصميم نيولو کچه لوړه او د اوږدمهاله پراختيا لپاره پياوړی بنسټ رامنځته کړي.

زه د افغانستان د علومو اکاډمۍ د طبیعي ـ تخنیکي علومو معینیت د ځمکپوهنې علومو مرکز مشرتابه، علمي غړو او څېړونکو ته د دغه مهم علمي ـ څېړنیز کنفرانس د جوړولو له امله مبارکي وایم او د هغوی علمي او مسلکي هڅې ستایم. همدارنګه، له ټولو پوهانو، څېړونکو، د پوهنتونونو له استادانو او متخصصانو څخه چې په دغه کنفرانس کې یې ګډون کړی او خپلې علمي ـ څېړنیزې موندنې، تحلیلونه او وړاندیزونه یې وړاندې کړي دي، مننه او قدرداني کوم.

هیله لرم چې د دغه کنفرانس علمي موندنې او وړاندیزونه یوازې د علمي اثارو تر خپرېدو محدود پاتې نه شي، بلکې د افغانستان د طبیعي سرچینو د علمي پېژندنې، ارزونې، ساتنې، معقولې ګټې اخیستنې او پایښتي مدیریت لپاره د نورو بنسټیزو او تطبیقي څېړنو زمینه برابره کړي او د اړوندو ادارو د پالیسي جوړونې، پلان جوړونې او تصمیم نیونې لپاره د استفادې وړ علمي مرجع وګرځي.

د افغانستان د علومو اکاډمي به د خپل علمي او څېړنیز رسالت په چوکاټ کې د معیاري څېړنو د پراختیا، د علمي ظرفیتونو د پیاوړتیا، د علمي بنسټونو ترمنځ د همکارۍ او د هېواد د اساسي ستونزو لپاره د علمي او عملي حل‌لارو د وړاندې کولو په برخه کې خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

په درنښت

شیخ الحدیث فریدالدین محمود

د افغانستان د علومو اکاډمي عمومي رئیس

پیام وزارت ارشاد، حج و اوقاف به مناسبت سیمینار علمی - تحقیقی «مدیریت پایدار منابع طبیعی در افغانستان»

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِهِ الْكَرِيمِ، وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ و بعد.

اعضای محترم رهبری اکادمی علوم، مقامات محترم امارت اسلامی، علما، دانشمندان و حضار گرامی!

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ!

نخست از همه، ضمن تقدیر از تلاش های ارزشمند اکادمی علوم افغانستان در برگزاری این سیمینار علمی، خدمت همۀ شما دانشمندان، محققان و علاقه مندان به موضوع مهم «مدیریت پایدار منابع طبیعی در افغانستان» خیر مقدم گفته خوش آمدید عرض می کنم. برگزاری چنین محافل علمی، گامی است ارزنده در راستای شناخت هر چه بهتر ثروت های خدا دادی این سرزمین و بهره برداری معقول از آنها برای آبادانی و توسعۀ افغانستان عزیز.

موضوعی که امروز حول آن گرد هم آمده ایم، از جمله مسایل حیاتی است که آیندۀ یک ملت به آن گره خورده است. منابع طبیعی، سرمایۀ است که خداوند متعال آنرا به رایگان در اختیار بشر قرار داده، اما مسئولیت نگهداری، بهره برداری عاقلانه و انتقال آن به نسل های آینده، بر عهدۀ خود ما است.

برادران و حضار گرامی علما و فضلا! اسلام به عنوان دین جامع و کامل، برای انسان و رابطه اش با طبیعت، اصول روشن و راه گشایی ترسیم کرده است. خداوند متعال انسان را در روی زمین به عنوان «خلیفه» و امانت دار قرار داده است. در قرآن کریم می‌خوانیم: «وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً» (بقره: 30) این آیۀ مبارکه به روشنی نشان می‌دهد که مسئولیت انسان در زمین، صرفاً بهره برداری بی رویۀ نیست، بلکه امانت داری و آبادانی است.

خلافت الهی، مسئولیتی است سنگین که با آزادی مطلق در تخریب و اسراف منافات دارد. خداوند متعال در جای دیگری از قرآن کریم میفرماید: «وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا» (اعراف: 56) یعنی پس از آنکه زمین را اصلاح کردیم، در آن فساد و تباهی نکنید. این آیه، اصل بنیادین «حفاظت از محیط زیست و منابع طبیعی» را به روشنی بیان می دارد و هرگونه بهره برداری غیرمسئوولانه، تخریب جنگلات، آلوده سازی آبها و اسراف در منابع را مصداق فساد فی الارض می داند.

همچنان خداوند متعال در سورهٔ روم میفرماید: «ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ» (روم: 41) این آیه به صراحت هشدار می دهد که فساد در خشکی و دریا، نتیجهٔ دست های خود انساها است و این هشداری است بزرگ برای همه ما که در مدیریت منابع طبیعی، مسیر درست و پایدار را انتخاب کنیم. از سوی دیگر، قرآن کریم انسان را به تفکر در آفرینش و نعمتهای زمین دعوت می‌کند و میفرماید: «وهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ» (ملک: 15). این آیه، هرچند اجازهٔ بهره برداری از زمین را می دهد، اما این بهره برداری را در چارچوب رزق حلال و متعادل قرار می‌دهد، نه بهره کشی افراطی و مخرب.

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم، الگوی عملی و کامل برای مدیریت منابع طبیعی است. ایشان حتی در مصرف آب، که فراوانترین نعمت به نظر می رسید، سفارش به میانه روی می کردند. روایت شده که پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم از کنار سعد که مشغول وضو گرفتن بود عبور کردند و فرمودند: «این اسراف چیست؟» سعد پرسید: آیا در وضو هم اسراف است؟ فرمودند: «بله، هرچند در کنار رودخانه جاری باشی.»1

این حدیث شریف، اصلی جهانی و همیشگی را بیان می‌کند: حتی در فراوانترین شرایط، اسراف در مصرف منابع طبیعی، مذموم و ناپسند است. این تعلیم نبوی امروز برای افغانستانی که با چالش های جدی کمبود آب مواجه است، پیامی بسیار روشن و کاربردی دارد.

همچنان رسول خدا صلی الله علیه وسلم در بارهٔ احیای زمین و کاشت درخت می فرمایند: «هر کس نهالی بکارد یا کشت زاری ایجاد کند و از آن پرنده یا انسان یا حیوانی بهره مند شود، برای او صدقه محسوب می شود. 2» این حدیث، بُعد معنوی و اخروی حفاظت از محیط زیست و منابع طبیعی را به ما یادآوری می‌کند و توسعهٔ سبز و پایدار را عملی عبادی و ثواب آور معرفی می‌نماید.

در حدیث دیگری، پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم از تخریب بی رویهٔ درختان در زمان جنگ نیز نهی فرموده‌اند و به لشکریان دستور می‌دادند که درختان مثمر را قطع نکنند و

1- سنن ابن ماجه ج 1 ص 272 و مسند احمد ج 11 ص 636

2 - صحیح البخاری ج1 ص226 حدیث شماره2320

آبادانی ها را ویران نسازند. این رهنمود نبوی نشان می‌دهد که حتی در شرایط اضطراری و بحرانی، حفظ منابع طبیعی از اولویت های اساسی است.3

افغانستان عزیز ما، سرزمینی است غنی از منابع طبیعی؛ از معادن گرانبها گرفته تا آب های زیرزمینی و سطحی، جنگلات، مراتع و زمین های زراعتی حاصلخیز. اما سالها جنگ، بی ثباتی و بهره برداری غیر مسئولانه، آسیب های جدی به این ثروت های خدادادی وارد کرده است. امروز، در آستانه بازسازی و توسعۀ کشور، و در فضای بسیار مثبت و امن که امارت اسلامی فراهم نموده است وظیفه شرعی و ملی همه ما است که این منابع را با نگاه علمی، عقلانی و اسلامی مدیریت کنیم. مدیریت پایدار منابع طبیعی، تنها یک ضرورت اقتصادی نیست، بلکه یک تکلیف دینی و امانت الهی است که باید با رعایت حقوق نسل های آینده و دورنمای توسعۀ همه جانبه کشور انجام شود. بازسازی افغانستان بدون در نظر داشتن اصول پایدار محیط زیستی، ممکن است منافع کوتاه مدت اقتصادی به همراه داشته باشد، اما در درازمدت، کشور را با بحران های جدی کمبود آب، بیابانزایی، تخریب زمین های زراعتی و مهاجرت های اجباری ناشی از تغییرات اقلیمی مواجه خواهد ساخت. از اینرو، هرگونه برنامه ریزی توسعه یی باید با نگاه طویل المدت و علمی صورت گیرد. از اینرو، از تمامی نهادهای دولتی، مسؤولین، محققان و احاد مردم شریف افغانستان می خواهیم که:

- ✓ در استخراج و بهره برداری از معادن، اصل میانه روی، شفافیت و عدالت را رعایت کنند؛
- ✓ در مصرف آب، از اسراف بپرهیزند و به فکر نسل های آینده باشند؛
- ✓ در قطع درختان و جنگلات، احتیاط و مسؤولیت پذیری را در نظر بگیرند. آنطوری که مقام عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله طی فرمان شماره 28 خویش ابلاغ فرموده اند همه از آن اطاعت و برنامه های حفظ و حراست از درختان، جنگلات و منابع خدادادی ما را تقویت نمایند؛
- ✓ در تمامی برنامه های توسعه یی و انکشافی و زیربنایی، ملاحظات محیط زیستی و عدالت الهی و مصالح عمومی را جدی بگیرند؛
- ✓ و از دانش بومی وطن و تجارب علمای دین در کنار علم و تکنالوژی روز، برای مدیریت بهتر منابع طبیعی و رفاه و توسعۀ کشور بهره ببرند.

3 - مصنف ابن أبی شیبه ج 12 ص 282 حدیث شماره 33792

نهادهای علمی همچون اکادمی علوم افغانستان، نقش بی بدیلی در این مسیر دارند؛ چرا که پیوند میان علم و دین، می تواند راهکارهایی عملی و پایدار برای چالش های محیط زیستی کشور ارائه دهد.

در پایان، باید گفت که تعالیم اسلامی، چراغ راه روشنی برای مدیریت پایدار منابع طبیعی است. بر همین اساس است که عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله قوانین و فرامین مبتنی بر ارزش های دینی و ملی را در راستای حفاظت از منابع طبیعی و درختان توشیح و چراغ راه مان قرار داده است. اگر ما به عنوان امت اسلامی، به این آموزه ها پایبند باشیم که باید باشیم، نه تنها منابع طبیعی افغانستان حفظ خواهد شد، بلکه بستر مناسبی برای بازسازی، توسعهٔ اقتصادی و رفاه مردم و شکوفایی کشور فراهم می گردد.

از خداوند متعال می‌خواهیم که به همه ما توفیق دهد تا امانت داران خوبی برای این سرزمین و منابع آن باشیم و افغانستان را به کشوری آباد، سرسبز و خودکفا تبدیل کنیم. امید است که این سمینار علمی، سرآغازی باشد برای همکاری هرچه بیشتر میان نهادهای علمی، دینی و اجرایی کشور در راستای حفظ و مدیریت پایدار منابع طبیعی.

وَالسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ

مولوی عارف الله ساکی

معین اداری و مالی وزارت ارشاد، حج و اوقاف

20/ صفر المظفر/ 1448

پیام وزارت زراعت، آبیاری و مالداری

به مناسبت سمینار علمی مدیریت پایدار منابع طبیعی در افغانستان

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

هُوَ الَّذِی أنشَأكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا

ترجمه: او (خداوند) کسی است که شما را از زمین پدید آورد و آباد کردن آنرا به شما واگذاشت. (سورۀ هود، آیۀ 61)

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِهِ الْكَرِيمِ، وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ.

برگزاری سمینار علمی مدیریت پایدار منابع طبیعی در افغانستان، فرصت ارزشمندی برای هم‌اندیشی علمی، تبادل تجارب و ارائه راهکارهای مؤثر در زمینه حفاظت، احیا، انکشاف و مدیریت پایدار منابع طبیعی کشور است.

وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، از برگزاری این سمینار علمی استقبال نموده و از تمامی استادان، محققین، متخصصان، مسئولان ادارات اماراتی، نهادهای علمی و تحقیقاتی و سایر اشتراک‌کنندگان که در راستای حفظ سرمایه‌های طبیعی کشور تلاش می‌نمایند، صمیمانه سپاسگزاری می‌کند.

منابع طبیعی از بزرگ‌ترین سرمایه‌های ارزشمند افغانستان به شمار می‌رود و نقش اساسی در حفظ تعادل اکولوژی، تأمین امنیت غذایی، حفاظت از تنوع زیستی، کاهش اثرات تغییرات اقلیمی، جلوگیری از تخریب زمین، ایجاد فرصت‌های شغلی، بهبود معیشت مردم و رشد اقتصادی کشور داشته از این رو، حفاظت و بهره برداری اصولی از این منابع، مسئولیت مشترک تمام اتباع کشور بوده که مستلزم همکاری امارات اسلامی افغانستان، مراکز علمی، بخش خصوصی، جوامع محلی و سایر ذیدخلان میباشد.

وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، در چارچوب پالیسی‌ها و قوانین نافذه، همواره متعهد به حفاظت، احیا و توسعه جنگلات، علفچرها، نباتات طبی، ساحات حفاظت شده، حیات وحش، آبریزه ها و سایر منابع طبیعی کشور بوده تا زمینه استفاده پایدار از آن و افزایش عواید امارت اسلامی افغانستان را فراهم سازد.

امروز بیش از هر زمان دیگر، نیاز است تا مدیریت منابع طبیعی بر مبنای تحقیقات علمی، نوآوری، تکنالوژی های نوین و تجارب موفق ملی و بین‌المللی استوار گردد. برگزاری چنین سمینارهایی می تواند زمینهٔ تدوین سیاست های مؤثر، تقویت ظرفیت های تخصصی، افزایش هماهنگی میان نهاد های ذیربط و ارائه راهکارهای علمی برای حفاظت از منابع طبیعی و مقابله با چالش هایی چون تغییرات اقلیمی، صحراگرایی، تخریب جنگلات، کاهش تنوع زیستی و بهره برداری غیرقانونی از منابع طبیعی را فراهم سازد.

در پایان، از برگزار کنندگان این سمینار، استادان، محققان، متخصصان و تمامی اشتراک کنندگان ارجمند قدردانی نموده، موفقیت روز افزون همه آنان را از درگاه خداوند متعال مسئلت داریم. امیدواریم نتایج این سمینار، زمینه ساز همکاری های گسترده‌تر علمی و عملی در راستای حفاظت و مدیریت پایدار منابع طبیعی افغانستان باشد.

مدیریت پایدار منابع طبیعی ضامن سلامتی و مصونیت غذایی نسل های امروز و آینده افغانستان است!

وَالسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ

وزارت زراعت، آبیاری و مالداری

پیام ادارۀ عمومی حفاظت محیط زیست افغانستان

به مناسبت سمینار علمی "مدیریت پایدار منابع طبیعی در افغانستان"

اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَکَاتُهُ!

نخست، از رهبری محترم اکادمی علوم افغانستان به خاطر برگزاری این سمینار علمی و فراهم‌ساختن زمینه تبادل نظر، دانش و تجربه پیرامون مدیریت پایدار منابع طبیعی کشور، صمیمانه سپاسگزاری می‌نماییم.

افغانستان از جمله کشورهایی است که از منابع طبیعی ارزشمند و متنوع، از جمله آب، جنگلات، چراگاه ها، حیات وحش، معادن و تنوع زیستی غنی برخوردار است. این منابع، سرمایه‌های ملی و امانت نسل های امروز و فردای کشور بوده و نقش اساسی در رشد اقتصادی، تأمین معیشت مردم، حفظ تعادل اکولوژیکی و کاهش اثرات تغییرات اقلیمی دارند.

با این حال، افزایش فشار بر منابع طبیعی، تغییرات اقلیمی، خشکسالی های پی هم، تخریب جنگلات و چراگاه ها، آلودگی محیط زیست و استفاده غیرمعماری از منابع، مدیریت علمی و پایدار این سرمایه‌های ملی را به یک ضرورت اساسی مبدل ساخته است.

ادارۀ عمومی حفاظت محیط زیست افغانستان باور دارد که مدیریت پایدار منابع طبیعی تنها از طریق تقویت تحقیق های علمی، تدوین و تطبیق پالیسی‌های مؤثر، ارتقای آگاهی عامه، استفاده از تکنالوژی‌های نوین، مشارکت فعال جوامع محلی و همکاری نزدیک میان نهادهای دولتی، اکادمیک، جامعه مدنی و شرکای توسعه یی امکان‌پذیر خواهد بود.

نقش اکادمی علوم افغانستان به عنوان مرجع علمی کشور در تولید دانش، ارائه راهکار های مبتنی بر تحقیق و حمایت از تصمیم‌گیری های علمی، در این راستا بسیار ارزشمند و قابل تقدیر است. ادارۀ عمومی حفاظت محیط زیست از هرگونه همکاری علمی و تحقیقی با مراکز اکادمیک کشور استقبال نموده و آن را گامی مهم در راستای حفاظت مؤثر از محیط زیست و استفادۀ پایدار از منابع طبیعی می داند.

در پایان، امیدواریم نتایج و پیشنهادهای این سمینار علمی بتواند زمینه‌ساز تدوین راهکارهای عملی، تقویت همکاری‌های علمی و ارتقای مدیریت پایدار منابع طبیعی در افغانستان گردد.

از تلاش‌های ارزشمند برگزار کنندگان، استادان، محققین و تمامی اشتراک‌کنندگان این برنامه علمی صمیمانه سپاسگزاری نموده، برای همگان موفقیت و توفیق روزافزون آرزو می‌نماییم.

والسلام

ادارۀ عمومی حفاظت محیط زیست افغانستان

د (په افغانستان کې د طبیعي سرچینو پایښتي مدیریت) علمي - څېړنیز سیمینار لپاره د کابل پولي تخنیک پوهنتون د رئیس پیغام

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِهِ الْكَرِيمِ، وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِين.و بعد!

دا یو څرګند او نه انکارېدونکی حقیقت دی چې اوبه د الله سبحانه وتعالی له سترو بې بدیلو نعمتونو څخه دي. د انسان،حیوان او نبات ژوند، د خوړو تولید، د عامې روغتیا ساتنه، د انرژۍ تولید او د هیوادونو اقتصادي پرمختګ او پایښت لرونکې ودې ټول له اوبه سره مستقیم تړاو لري. له همدې امله، د دې حیاتي سرچینې ساتنه او معقول مدیریت د هرې ټولنې اساسي اړتیا او ګډ مسؤولیت ګڼل کېږي.

اقلیمي بدلون د نړۍ له مهمو ننګونو څخه دی چې د انسان د ژوند، اقتصادي ودې، ټولنیز ثبات او طبیعي ایکوسیستمونو پر بېلابېلو اړخونو یې ژور اغېز کړی دی. افغانستان، سره له دې چې د نړۍ د شنوخونو ګازونو په ټولې کې هېڅ ونډه نه لري، د خپل جغرافیایی موقعیت، اقلیمي حساسیت او محدودو طبیعي سرچینو له امله د اقلیمي بدلونونو له اغېز څخه تر ټولو زیانمنو هېوادونو شمېرل کېږي. پرله پسې وچکالی، ویجاړوونکي سېلابونه، د واورو او طبیعي یخچالونو ویلي کېدل، د ځمکې لاندې اوبه د کچې ټیټېدل، د خاورې تخریب او د طبیعي سرچینو غیرمعیاري ګټه اخیستنه د وطن پر دوامدار پرمختګ ژور منفي اغېز کړی دی. له همدې امله، د اقلیمي بدلونونو پر وړاندې مبارزه او د طبیعي سرچینو مسؤلانه مدیریت یوازې یوه تخنیکي اړتیا نه، بلکې یو اسلامي او انساني مسؤولیت هم دی.

قرآن کریم او نبوي سنت د اوبه د ارزښت، ساتنې او معقول مدیریت په اړه ګڼې لارښوونې کړې دي، چې د یوې اسلامي ټولنې په توګه مور د دې الهي نعمت د ساتنې او مسؤلانه استفاده مکلف ګرځوي. په همدې حال کې، د وطن اقتصادي وده، د طبیعي سرچینو پایښت لرونکی مدیریت، د اقلیمي بدلونونو پر وړاندې د مقاومت لوړول او د راتلونکو نسلونو د حقونو خوندي کول ایجابوي چې د اوبه سرچینې د علمي، مسلکي او پایښتي مدیریت له اصولو سره سم تنظیم او اداره شي.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

(وَاجَعَلْنَا مِنَ الْماءِكُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ) (الأنبيا سورة: 30 آية)

ژباړه: او پیدا کړی دی مور له اوبه څخه هر شي ژوندی.

دا الهي حقیقت څرګندوي چې اوبه د ژوند، کرنې، انرژۍ، اقتصادي ودې او چاپېریالې پایښت بنسټ جوړوي. له همدې امله، د اوبه او نورو طبیعي سرچینو پایښت لرونکي او علمي مدیریت د افغانستان د خوړو خوندیتوب، اقتصادي ودې او د راتلونکو نسلونو د هوساینې لپاره حیاتي ارزښت لري. د اقلیمي بدلونونو پر وړاندې د مقاومت لوړول او د طبیعي سرچینو اغېزمن مدیریت د علمي څېړنو، نوښت او داخلي همغږۍ له لارې شونې دی.

په همدې لیدلوري، د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا د (په افغانستان کې د طبیعي سرچینو پایښتي مدیریت) تر سرلیک لاندې د علمي څېړنیز سیمینار جوړېدل یو پر وخت او ارزښتناک نوښت دی. دا ډول علمي غونډې د پوهنتونونو، څېړنیزو مرکزونو، امارتې ادارو او متخصصینو ترمنځ د علمي همکاریو د پراختیا، د تجربو د تبادلې او د شواهدو پر بنسټ د اغېزمنو پالیسیو او علمي حللارو د رامنځته کولو لپاره غوره فرصت برابروي.

کابل پولی تخنیک پوهنتون، د وطن د انجنیرۍ د لوړو زده کړو او علمي څېړنو د مخکښ بنسټ په توګه، د اوبو، چاپېریال، او د طبیعي سرچینو او اقلیمي بدلونونو په برخو کې د علمي څېړنې، د متخصصو کادرنو روزنه او نوښت خپل ماموریت ګڼي. مونږ باور لرو چې د اسلامي ارزښتونو، علمي څېړنو او اغېزمنو علمي همکاریو پر بنسټ کولای شو د وطن د طبیعي سرچینو د پایښت لرونکي مدیریت، د اقلیمي بدلونونو سره د تطابق او د دوامدار پرمختګ لپاره علمي او اغېزمنې لارې چارې رامنځته کړو.

په پای کې، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د دې ارزښتناک علمي نوښت ستاینه کوم او هیله لرم چې د دې سیمینار علمي مقالې، بحثونه او سپارښتنې به د افغانستان د طبیعي سرچینو د پایښت لرونکی مدیریت، د اقلیمي بدلونونو د اغېزو کمولو او د و وطن د دوامدار پرمختګ لپاره اغېزمنې پایلې ولري. له الله تعالی ﷻ څخه غواړم چې زموږ علمي هڅې د وطن د آبادۍ، د خلکو د سوکالۍ او د راتلونکو نسلونو د روښانه راتلونکي لامل وګرځوي.

والسلام

مولوی محمد موسی فاروق

د کابل پولي تخنیک پوهنتون عمومي رئیس

صفرالمظفر 1448 هجري قمري

پیام ادارۀ آمادگی مبارزه با حوادث به مناسبت سمینار علمی و تخنیکی پیرامون «مدیریت منابع طبیعی در افغانستان»

مدیریت منابع طبیعی، یکی از اساسی ترین ارکان کاهش خطرات ناشی از حوادث قدرتی و تأمین توسعۀ پایدار در افغانستان به شمار می رود. با توجه به موقعیت جغرافیایی کشور و افزایش تأثیرات تغییرات اقلیمی، بهره برداری غیر معیاری از منابع طبیعی، تخریب جنگلات، چرای بی رویۀ ، فرسایش خاک، مدیریت نادرست منابع آبی و کاهش پوشش نباتی، زمینه ساز افزایش خطر سیلاب ها، لغزش زمین، خشکسالی و سایر حوادث قدرتی شده است.

از دیدگاه ادارۀ آمادگی مبارزه با حوادث، مدیریت مؤثر حوادث تنها به پاسخ‌گویی پس از وقوع رویدادها محدود نبوده، بلکه نیازمند برنامه ریزی علمی، مدیریت پایدار منابع طبیعی، ارزیابی و تحلیل خطرات،کاهش آسیب پذیری جوامع، حفاظت از محیط زیست و سرمایه گذاری بر اقدامات وقایوی است. هر اندازه منابع طبیعی به صورت اصولی و پایدار مدیریت شوند، به همان میزان خطرات و خسارات ناشی از حوادث کاهش یافته و ظرفیت تاب آوری جوامع در برابر بحران‌ها افزایش می یابد.

دستیابی به این هدف مستلزم تقویت همکاری میان نهادهای امارتی، مراکز علمی و تحقیقاتی، دانشگاه‌ها، سازمان‌های بین‌المللی و جوامع محلی است. توسعۀ تحقیقات کاربردی، استفاده از تکنالوژی های نوین مانند سیستم های اطلاعات جغرافیایی (GIS)، سنجش از دور، سیستم های هشدار پیش از وقوع، نقشه برداری خطرات، مدیریت حوزه های آبریز، احیای جنگلات و پوشش نباتی، ایجاد دیوار های استنادی و سایر پروژه های کاهش خطر، از جمله راهکارهای تخصصی و مؤثر در مدیریت منابع طبیعی و کاهش خطرات ناشی از حوادث به شمار می‌روند.

ادارۀ آمادگی مبارزه با حوادث بر این باور است که تقویت دانش تخنیکی، تصمیم‌گیری مبتنی بر شواهد، تدوین پالیسی های علمی و تطبیق برنامه های وقایوی، زمینه ساز ایجاد نظامی پایدار، هماهنگ و کارآمد برای مدیریت حوادث در افغانستان خواهد بود. برگزاری چنین سمینار های علمی، فرصت ارزشمندی برای تبادل تجارب، ارائه یافته های تحقیقی و تدوین راهکارهای عملی به منظور حفاظت از منابع طبیعی و کاهش خطرات ناشی از حوادث قدرتی است و می تواند نقش مهمی در تأمین مصونیت، رفاه و توسعۀ پایدار کشور ایفا نماید.

والسلام

ادارۀ آمادگی مبارزه با حوادث

د طبيعي سرچينو پايښتي مديريت تر سرليک لاندې علمي ـ څېړنيز کنفرانس په مناسبت د کابل پوهنتون رئيس پيغام

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّي عَلَىٰ رَسُولِهِ الْكَرِيمِ، أَمَّا بَعْدُ،

محترمو استادانو، څېړونکو، د علومو اکادمي درنو غړو، او ټولو قدرمنو حاضرينو!

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ!

د انسان له پيدايښت سره سم په ځمکه کې قدرتي سرچينې لکه بيولوژيکي تنوع، خاوره، اوبه، منرالونه، ځنګلونه، شنې ساحې او نور د انسان د ژوند يوه اړتيا ګڼل کېږي. په نړۍ کې د وګړو شمېر ورځ په ورځ ډېرېږي چې خوړو، ځای او قدرتي سرچينو ته اړتيا لري. د قدرتي سرچينو وېش د ډېرو هېوادونو دننه او د هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سياسي ستونزو لامل شوی دی، په ځانګړې ډول په هغه هېوادونو کې چې قدرتي سرچينې يې محدودې دي او يا ډېر مصرف شوي دي. له همدې کبله د يادو سرچينو استخراج بايد په مؤثر او مسؤلانه ډول ترسره شي او په داسې اقتصادي ماډلونو بايد کار وشي چې د نويو سرچينو پر استخراج تکيه لږ شي او پر ځای يې د شته منابعو د بيا کارونې تر څنګ په نوي کېدونکو سرچينو ډېر تمرکز وشي.

افغانستان د کانونو او طبيعي زېرمو له پلوه ډېر شتمن هېواد دی. ددې زېرمو اغېزمن او مسؤلانه استخراج د هېواد اقتصادي پرمختګ، کارموندنه او پايدار ميلي عوايد تضمينوي. د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې فلزي او غير فلزي کانونه لکه مس، وسپنه، ليتيم، د ډېرو سکاره، نفت، طبيعي ګاز او قيمتي ډبرې لکه لاجورد، زمرد، ياقوت، تورمالين او اکوامارين شته دي. افغانستان د ايکولوژيکي او بيولوژيکي قدرتي زېرمو له اړخه هم بډايه هېواد دی چې ګڼ ژوي، مرغان، نباتات او ځنګلي ايکوسيستمونه لري. د دغو زېرمو ساتنه د چاپېريال، د طبيعي تنوع او د هېواد د دوامدار پرمختګ لپاره ډېره مهمه ده.

افغانستان د طبيعي سرچينو د مديريت په برخه کې له ګڼو ستونزو لکه د ځنګلونو ناقانونه وهل، د دښتو پراخوالی، د بيولوژيکي تنوع له لاسه ورکول، د چاپېريال ککړتيا، طبيعي آفات، د خاورې

مالګين توب او نورو سره مخ دی. په دې برخو کې د افغانستان اسلامي امارت جدي اقدامات کړي دي خو لا هم ددې سرچينو د اداره کولو لپاره مزيد کار ته اړتيا ده.

اسلامي امارت د قدرتي زېرمو د سمې ګټې اخيستنې په موخه له کورنيو او بهرنيو شرکتونو سره رسمي ټړونونه کړي ترڅو د سرو زرو، وسپنې، سرب او جست کانونه استخراج او سم وکارول شي. د عصري ټکنالوژۍ، مسلکي کارکوونکو او ښه مديريت له لارې د قدرتي زېرمو اغېزناک او دوامدار استخراج د لګښتونو د لږوالي او د عوايدو د ډېروالي سبب کېږي او د چاپېريال ساتنې او قدرتي سرچينو له ضايع کېدو څخه مخنيوی کوي. له قدرتي زېرمو څخه ترلاسه شوي عوايد بايد په سم ډول په عام المنفعه پروژو لکه د سړکونو، بندونو او نورو عامه زيربناوو په جوړولو کې مصرف شي ترڅو ځانبسايني ته د کار زمينې برابرېدو سره د بېوزلۍ کچه راټيټه شي.

د داسې علمي سيمينارونو جوړول او د علمي تجربو او معلوماتو شريکول د دې سبب ګرځي چې په اړوندو برخو کې ستونزې تشخيص او ورته مناسبې حل لارې په ګوته شي. د افغانستان د علومو اکاډمۍ دا ډول فعاليتونه او هڅې دې لا زياتې او ګړندۍ شي. له الله څخه د دې علمي مرکز رهبری، څېړونکو او ليکوالو ته مزيد توفيق غواړو.

په درنښت

وَالسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ

دکتور اسامه عزيز

د کابل پوهنتون رئيس

د افغانستان د طبيعي سرچينو پايښتی مديريت علمي ـ څېړنيز کنفرانس ته د قيمتي او نيمه قيمتي ډبرو او جواهرات صادرونکو د اتحاديې پيغام

د افغانستان اسلامي امارت د کابينې قدرمنو غړو، د افغانستان د علومو اکاډمۍ محترم مشرتابه، درنو علماوو او څېړونکو، د اړوندو دولتي ادارو استازو، متخصصينو، سوداګرو، پانګه والو او د کنفرانس قدرمنو ګډونوالو!

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ!

د افغانستان د قيمتي او نيمه قيمتي ډبرو اتحاديه ويارې چې د »افغانستان د طبيعي سرچينو پايښتی مديريت «تر سرليک لاندې په دې علمي ـ څېړنيز کنفرانس کې د هېواد د قيمتي او نيمه قيمتي ډبرو د سکتور د سوداګرو، پانګه‌والو، پروسس کوونکو او فعالانو پيغام وړاندې کوي.

افغانستان د قيمتي او نيمه قيمتي ډبرو له پلوه د پام وړ طبيعي شتمنی لري. لاجورد، زمرد، ياقوت، کونزايټ، تورمالين او نورې قيمتي او نيمه قيمتي ډبرې د هېواد ارزښتناکې طبيعي سرچينې دي چې د مناسب علمي، تخنيکي، قانوني او اقتصادي مديريت په صورت کې د ملي اقتصاد، دولتي عوايدو، خصوصي پانګونې، کاري فرصتونو، کورنۍ صنعت او صادراتو په پراختيا کې مهم رول لوبولی شي.

د طبيعي سرچينو پايښتی مديريت د سرچينو له ساتنې سره يوځای د هغوی د علمي پېژندنې، مسئولانه استخراج، کورنۍ پروسس، ارزښت زياتونې، مناسبه سوداګری او اغېزمنې بازارموندنې غوښتنه کوي. له همدې امله، د قيمتي او نيمه قيمتي ډبرو د سکتور د ارزښت ځنځير پياوړتيا او د علمي بنسټونو، دولتي ادارو او خصوصي سکتور ترمنځ همغږي د دې ملي شتمنی د اغېزمنې استفادې لپاره ځانګړی اهميت لري.

قيمتي او نيمه قيمتي ډبرې د عادي معدني موادو په څېر يوازې د وزن له مخې نه ارزول کېږي؛ بلکې نوعيت، رنګ، شفافيت، پاکوالی، اندازه، تراش، منشاء او کيفيت يې د ارزښت په ټاکلو کې اساسي معيارونه دي. له همدې امله، د دې سکتور د علمي او سوداګريز اعتبار د پياوړتيا لپاره د يوه مجهز او معياري منرالوجيکي لابراتوار شتون مهم دی، څو د قيمتي او نيمه قيمتي ډبرو نوعيت، کيفيت، طبيعي يا مصنوعي حالت او نور تخنيکي مشخصات په علمي ډول تثبيت او د معتبرو تصديق‌ليکونو د صادرولو زمينه برابره شي. دا چاره کولای شي په

کورنیو او نړیوالو بازارونو کې د افغانستان د قیمتي ډبرو اعتبار او سوداګریز ارزښت لوړ کړي.
همدارنګه، د مناسبې سوداګرۍ، کورنۍ پروسس، صادراتو او نړیوالې بازارموندنې د لا پراختیا لپاره د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو د یوه معیاري تخصصي- مارکیټ رامنځته کول د سکتور د ودې لپاره اغیزمن ګام کېدای شي. په دې برخه کې له اړوندو دولتي ادارو څخه هیله کېږي چې د نافذه قوانینو، مقرراتو او ملي لومړیتوبونو په چوکاټ کې د مناسبې ځای، اړینو اسانتیاوو او لازمې همغږۍ زمینه برابره کړي، څو د افغانستان قیمتي او نیمه قیمتي ډبرې تر کورنۍ پروسس او ارزښت‌زیاتونې وروسته په منظم او معیاري ډول بازارونو ته وړاندې شي.
د افغانستان د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو اتحادیه باور لري چې د علمي مدیریت، معیاري ارزونې، کورنۍ پروسس د پیاوړتیا له لارې دغه ارزښتناک سکتور کولای شي د ملي عوایدو، صادراتو، پانګونې، کاري فرصتونو او د هېواد د اقتصادي ودې په یوه مهمه سرچینه بدل شي.

په درنښت

د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو او جواهراتو صادرونکو اتحادیه